صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰۶۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

# ارگ پانه



شماره ۹۴
د افغانستان اسلامي امارت، د رياست الوزراء مقام د دفتر عمومي رياست، د وياند دفتر، د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز
د تأسیس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 میلادي | د چاپ نېټه: رجب المرجب ۲، کال ۱۴۴۷ هجري قمري

## عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د ګڼو وزارتونو د مسئولینو لپاره په جوړ شوي سیمینار کې ګډون او وینا‌وې وکړې

٦



## د کابینې یوولسمه غونډه؛ د هېواد په بندرونو کې د اړتیا وړ تأسیساتو او لابراتوارونو د ارزونې او نوي کابل د ابادۍ په اړه بحث وشو

۲

د دي ګڼې لنډيز:

## د اداري اصلاحاتو، ټولنيز خدمتونو او اقتصادي پراختيا په برخه کې د اسلامي امارت ګټور اقدامات

وروستۍ راپورونه او غونډې د اسلامي امارت د څو مهمو تګلارو په اړه پراخه لید وړاندې کوي، چې په ټولنیزو، اقتصادي او اداري برخو کې د حکومت د فعالیتونو او ژمنتیا څرګونه لري.

د کندهار په درې ورځني سیمینار کې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی ګډون او ارزښتناکه وینا د اسلامي امارت د اصولو او فرمانونو عملي کولو اهمیت په ډاګه کوي. د سیمینار ګډونوالو ته د قرآن کریم او سنتو...

۲

سرمقاله

## د غصب په وړاندې قاطع اقدام؛ هلمند کې د ځمکې استرداد

په افغانستان کې د ځمکې غصب یوه اوږدمهاله ستونزه پاتې شوې، چې د خلکو د حقونو ضایع کېدو او د بیت المال د زیان لامل ګرځېدلې ده. له همدې امله، د ځمکو د غصب د مخنیوي او د غصب شویو ځمکو د استرداد کمېسیون هڅې د هېواد د قانون حاکمیت، شفافیت او د خلکو د حقونو د خوندي کولو په برخه کې خورا ارزښتناکه ګڼل کېږي.

وروستۍ لاسته راوړنه په هلمند ولایت کې، د نادعلي ولسوالۍ په اړوند د ۱۸،۲۳۸ جریبه ځمکې تثبیت او تشخیص، او بیا د بیت المال په نوم استرداد ده. دا اقدام نه یوازې د غصب شوې ځمکې د بیرته...

۲

## معاون اداری ریاست الوزراء با هیأت بلند پایهٔ کشور قرغزستان دیدار کرد

۵

## د کورنیو چارو وزیر د خوست له ولسونو سره وکتل

۵

## افزایش چشمگیر دادوستد تجاری میان افغانستان و روسیه

۲

## کندهار کې د یوه ښوونځي نوې ودانۍ پرانیستل شوه

۵

## سروبي کې د ۲۲.۷۵ مېګاواټه لمریزي برېښنا پروژه ژر ګټې اخیستنې ته سپارل کېږي

۵

## روند اصلاح ساختار ادارات؛ تقویت موثریت کاری حکومت

با هدف ارتقای موثریت کاری، تقویت انسجام امور و بهبود هرچه بهتر عرضه خدمات به مردم در رهنمود شریعت مقدس، اصلاح و بازنگری ساختارهای ادارات یک نیاز اساسی و اجتناب‌ناپذیر به شمار می‌رود. ایجاد ساختارهای منظم، شفاف و پاسخ‌گو زمینه‌ساز استفاده مؤثر از منابع، تسریع در انجام امور و افزایش اعتماد عمومی خواهد بود. ادارات با تطبیق اصلاحات ساختاری می‌توانند روند کاری را ساده‌تر، هماهنگی میان بخش‌ها را مستحکم‌تر و کیفیت خدمات‌رسانی به عموم هموطنان را به‌گونه‌ای پایدار ارتقا دهند. این اقدام، گامی مهم در راستای خدمت‌گزاری بهتر به مردم و تحقق اداره سالم، کارا و مسئولانه محسوب می‌شود.

مولوی نعیم الحق حقانی
رئیس مرکز اطلاعات و رسانه‌های حکومت

## اتحادیه اروپا ۲۵ میلیون یورو کمک به برنامه جهانی غذا در افغانستان اعلام کرد

۲

## آغاز کار احداث و ترمیم ۱۶۴ کیلومتر سرک روستایی در غور

۵



# د کابینې یوولسمه غونډه؛ د هېواد په بندرونو کې د اړتیا وړ تأسیساتو او لابراتوارونو د...

...د افغانستان اسلامي امارت د کابينې یوولسمه غونډه د محترم رئیس الوزراء الحاج ملا محمدحسن اخند په مشرۍ ترسره شوه.

یاده غونډه چې د قرانکریم په تلاوت پیل شوه پکې د هېواد مهمو اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري مسائلو په اړه بحث او ځینې پرېکړې ترسره شوې.

په غونډه کې پلاوي ته دنده وسپارل شوه چې د هرات ولایت اسلام قلعه او نورو بندرونو کې د اړتیا وړ تأسیساتو، د درملو د لابراتوارونو او نورو وسائلو اړوند بررسي وکړي او پایله يې د ریاست الوزراء مقام سره شریکه کړي؛ ترڅو يې په اړه اقدامات ترسره شي.

همداراز د نوي کابل په اړه بحث وشو چې له پلان سره سم دې د ابادۍ چارې پرمخ یووړل شي او نورې اداري دې له کور او ښار جوړولو وزارت سره همکاري وکړي. د یادونې وړ ده چې د کابینې یاده غونډه د ګڼو موضوعاتو په اړه له تفصیلي بحث او حل وروسته د خیر په دعاء سره پایته ورسېده.

---

# اتحادیه اروپا ۲۵ میلیون یورو کمک به برنامه جهانی غذا در...

...اتحادیه اروپا ۲۵ میلیون یورو کمک به دفتر برنامه جهانی غذا در افغانستان اعلام کرده است.

به گفته اتحادیه اروپا، این کمک برای توسعه پروژه‌های مقاوم در برابر تغییرات اقلیمی و تقویت سیستم‌های غذایی محلی در افغانستان استفاده خواهد شد.

همچنین ایجاد فرصت‌های شغلی برای زنان و جوانان و حمایت از برنامه‌های تغذیه مدارس از دیگر اهداف این کمک اعلام شده است.

اتحادیه اروپا افزود که این همکاری ادامه خواهد یافت تا فرصت‌هایی برای بهبود زندگی مردم افغانستان ایجاد شود.

---

# افزایش چشمگیر دادوستد تجاری میان افغانستان و...



...وزارت صنعت و تجارت اعلام کرده است که دادوستد تجاری میان افغانستان و روسیه افزایش یافته است.

بر بنیاد آمار این وزارت، ارزش مبادلات تجاری میان دو کشور در هشت ماه نخست سال جاری خورشیدی به ۳۶۶ میلیون دالر رسیده است.

آخندزاده عبدالسلام جواد، سخنگوی این وزارت، گفته است که میزان تجارت دو کشور در مدت مشابه سال گذشته ۱۷۴ میلیون دالر بوده است که نشان‌دهنده افزایش ۱۹۲ میلیون دالری در تبادلات دوجانبه می‌باشد. وی افزود که اقلام عمده صادراتی افغانستان به روسیه شامل کشمش، سنگ‌های معدنی، زردآلو، دیگ بخار، سنگ تالک و پنبه می‌باشد؛ در حالی که واردات از روسیه شامل گاز طبیعی، تیل پترول، چوب، روغن آفتابگردان، مواد خام مورد استفاده در کارخانه‌های صنعتی، گندم آزاد و تیل دیزلی است.

برخی از آگاهان امور اقتصادی باور دارند که تقویت روابط تجاری و اقتصادی میان کابل و مسکو می‌تواند زمینه‌ساز سرمایه‌گذاری‌های مشترک، به‌ویژه در بخش‌های انرژی، زراعت و صنعت شود و در نهایت به افزایش ثبات اقتصادی در کشور کمک کند.

شایان ذکر است که روسیه از بزرگ‌ترین تولیدکنندگان مواد خوراکی، نفت و گاز، فلزات و مواد خام صنعتی در جهان است. دسترسی افغانستان به این بازار می‌تواند زمینه تأمین پایدار کالاهای ضروری با قیمت مناسب را فراهم سازد.

---

# برای احداث شهرک مهاجرین لوگر ۱۰۲۸ جریب زمین سروی...

وزارت شهرسازی و مسکن می گوید که تیم تخنیکی این وزارت برای احداث شهرک مهاجرین لوگر، ۱۰۲۸ جریب زمین را سروی توپوگرافی کرده است.

این سروی به منظور جمع‌آوری معلومات تخنیکی دقیق برای احداث شهرک مهاجرین و طراحی پلان و نقشه تفصیلی در این ساحه انجام شده است.

تیم سروی ویژگی‌های جغرافیایی، ارتفاعات، تغییرات طبیعی و حدود فیزیکی منطقه را به طور دقیق ثبت کرده تا اطلاعات کافی و دقیق برای تهیه پلان تفصیلی شهرک فراهم شود.

مسئولان تأکید می‌کنند که این سروی گام مهم در توسعه شهری و پاسخ‌گویی به نیازهای اساسی مهاجرین بی‌سرپناه و عودت‌کننده محسوب می‌شود.

---

# باميان کې د مهاجرينو په ښارګوټي کې يو شمېر کورونه جوړ...

...د همدې پروژې په چوکاټ کې د ۳۰ استوګنیزو کورونو (شلټرونو) د جوړولو چارې هم بشپړې شوې دي، چې د مستحقو کډوالو لپاره ځانګړې شوې دي. د شلټر په بڼه د کورونو جوړولو دغه پروژه د «آرو» مؤسسې له خوا تطبیق شوې او د (یو، این، ایچ، سي، آر) دفتر له لوري تمویل شوې ده.

د معلوماتو له مخې، د یادې پروژې ټولیز لګښت ۱۲۶ زره امریکايي ډالر دی، او د هر شلټر لګښت ۴۲۰۰ امریکايي ډالرو ته رسېږي.

د یادونې وړ ده چې هر استوګنیز کور دوه د ناستې خونې، دهلیز، پخلنځی، حمام او تشناب لري.

د دې کورونو د جوړولو چارې په درې میاشتو کې بشپړې شوې دي، خو تر اوسه يې وروستۍ تسلیمي نه ده شوې او له بشپړې تسلیمۍ وروسته به پر اړمنو مهاجرو کورنیو ووېشل شي. همدارنګه، د ښارګوټي د پاتې استوګنیزو نمرو د خط اچونې چارې په عادي ډول روانې دي.

---

## د دې ګڼې لنډيز:

# د اداري اصلاحاتو، ټولنيز خدمتونو او اقتصادي پراختيا په برخه کې د اسلامي امارت ګټور اقدامات

...پر بنسټ لارښوونې وشوې، چې د یتیمانو، معلولینو، بې‌سرپرسته ماشومانو، معتادینو، کونډو او بې وزلو خلکو خدمت، شفافیت، عدالت او د خلکو د ژوند ښه والي ژمنتیا د اسلامي امارت اساس دی.

د کورنیو چارو وزیر په خوست کې له ولسونو سره لیدنه د ټولنیز ثبات او د باور پر بنسټ د حکومت او خلکو ترمنځ اړیکو د پیاوړتیا هڅې څرګندوي. نوموړي پر زغم، تعامل، وحدت او د قانوني لارو څخه په استفادې د ستونزو پر حل ټینګار وکړ، چې دا د ټولنیز نظم او د عدالت د تامین نښه ده.

همداراز، په اقتصادي ډګر کې، په سروبي کې د ۲۲.۷۵ مېګاواټه لمریزې برېښنا پروژه د هېواد د پاکې انرژۍ پر ځان بسیاینې او صنعتي، سوداګریزو او هستوګنیزو برخو د برېښنا د اړتیا پوره کولو لپاره مهم ګام دی. د دې سربېره، د بدخشان ولایتي روغتون ظرفیت لوړول د خلکو د روغتیايي خدماتو پراختیا او د تخصصي درملنې اسانتیاوو زیاتوالی څرګندوي. همدارنګه، د مهاجرینو ښارګوټي په بامیان او سمنګان ولایتونو کې د استوګنې د اړتیاوو په اساس جوړول د بې‌ځایه شویو او مهاجرینو د ژوند شرایطو ښه کولو ته لومړیتوب ورکوي.

د کندهار د غنیکي ښوونځي نوې ودانۍ، د زده کړې او علمي پرمختګ لپاره د اسلامي امارت ژمنتیا څرګندوي. دا ګامونه د با کیفیته زده کړو او د تعلیمي چاپېریال د ښه والي لپاره د حکومت هڅې ښيي.

د سیمه ییزو او بشردوستانه همکاریو په ډګر کې، د قرغزستان لوړ پوړو چارواکو سره د اسلامي امارت لوړ پوړو مسئولینو لیدنه او د بشردوستانه مرستو بحث د افغانستان د نړیوالو اړیکو د پراختیا او د همکارۍ د ژمنتیا نښه ده. دغه اقدامات د هېواد د اقتصادي او تخنیکي پرمختګ لپاره د بهرنیو پانګونو او علمي تجربو د انتقال فرصتونه زیاتوي.

د مختلفو کمېټو غونډې، د بندرونو او لابراتوارونو د ارزونې، د زمینو د انتقال او د ښارګوټو د پلان ترتیب د اداري اصلاحاتو، د شفافیت او د پروژو په اغېزمنه تطبیق کې د حکومت ژمنتیا څرګندوي. دا ښيي چې اسلامي امارت هڅه کوي ټولې ادارې د معیارونو مطابق کار وکړي او د خلکو خدمت ته ځانګړې پاملرنه وکړي.

راپورونه د اسلامي امارت د اداري اصلاحاتو، ټولنیز خدمت، اقتصادي پراختیا، تعلیمي پرمختګ او نړیوالو اړیکو پیاوړتیا په محور تمرکز څرګندوي. دغه اقدامات د هېواد د ثبات، د خلکو د هوساینې، د پانګونې فرصتونو د رامنځته کولو، د مهاجرینو د ستونزو د حل او د راتلونکو نسلونو د سالمې ودې لپاره بنسټیز ګامونه بلل کېږي.

## سرمقاله

# د غصب په وړاندې قاطع اقدام؛ هلمند کې د ځمکې استرداد

...ترلاسه کولو د پروسې بریا ښيي، بلکې د دولت د جدي ارادې، د ملي مسئولیت د پیاوړتیا او د شفافې څارنې یو څرګند ثبوت هم دی. د یادې ځمکې دقیقې څېړنې او د موجوده اسنادو پر بنسټ تثبیت ښيي چې د قانون د تطبیق لپاره تخصصي، مسلکي او منظمې لارې چارې عملي کېږي.

د هلمند ولایت د ځمکو د غصب د مخنیوي او د غصب شویو ځمکو د استرداد کمېسیون تخنیکي پلاوي هڅې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د پام وړ لاسته راوړنې را منځته کړې دي. په تېرو دوو کلونو کې په مرکز لښکرګاه کې ۱،۶۴۵.۵۱ جریبه، باباجي ولسوالۍ کې شاوخوا ۵۱،۰۰۰ جریبه، نادعلي ولسوالۍ لوی مانده سیمه کې شاوخوا ۵۶،۰۰۰ جریبه، مارجې ولسوالۍ کې ۲۶،۵۰۰ جریبه او تازه په نادعلي ولسوالۍ کې ۱۸،۲۳۸ جریبه ځمکه استرداد شوې، چې ټولټال يې ۱۵۳،۳۸۶.۹۶ جریبه ځمکه جوړوي.

یاده ځمکه د نادعلي ولسوالۍ اړوند سیمو کې د موجوده اسنادو او سوابقو پر بنسټ په دقیق ډول تثبیت شوې، چې دا خپله د شفافیت او دقیقې څارنې څرګندونه کوي. په تیرو دوو کلونو کې هم د دغه پلاوي هڅې د پام وړ وې: په مرکز لښکرګاه کې ۱۶۴۵.۵۱ جریبه، باباجي ولسوالۍ کې شاوخوا ۵۱،۰۰۰ جریبه، نادعلي ولسوالۍ لوی مانده سیمه کې شاوخوا ۵۶،۰۰۰ جریبه، مارجې ولسوالۍ کې ۲۶،۵۰۰ جریبه او تازه په نادعلي ولسوالۍ کې ۱۸،۲۳۸.۴۵ جریبه ځمکه استرداد شوې، چې ټولټال يې د ۱۵۳،۳۸۳.۹۶ جریبه ځمکه جوړوي.

د یادولو وړ ده، په تېرو دریو کلونو کې، د یاد کمیسیون د نه ستړې کېدونکو او پرله‌پسې هڅو، دوامدارو څېړنو او جدي تعقیب په پایله کې، د هېواد په بېلابېلو ولایتونو او ولسوالیو کې هغه ځمکې چې په تېر وخت کې په ناقانونه ډول غصب شوې وې، بېرته د دولت ملکیت ته راګرځول شوې دي. د دغو هڅو په ترځ کې، څه د پاسه څلور میلیونه جریبه ځمکه د قانوني لارو، شفافو پروسو او عدلي ارزونو له لارې استراداد شوې ده.

په پای کې، که اراده او تخنیکي وړتیاوې موجودې وي، هېڅ خنډ د عدالت او ملي مسئولیت په لاره کې پاتې کېدونکی نه دی. د نادعلي ولسوالۍ د ځمکې استرداد بریالۍ تجربه موږ ته ښيي چې د بیت المال ساتنه او د خلکو د حقونو خوندي کول یوازې د قانون حاکمیت، شفافې څارنې او دوامدارې هڅو په پایله کې ممکن دي.

www.gmic.gov.af



PANA ARG
Islamic Emirate of Afghanistan
Govt. Media and Information Center

Issue #94

Publish By:
Government Media and Information Center (GMIC)

Contact Number:
93+ (0) 202100633

Email:
info@gmic.gov.af

Address:
Marble Palace, Opposite to the Ministry of Foreign Affairs, Kabul, Afghanistan

# 22.75 MW Solar Plant Set to Boost National Power Supply





...ContP#4

## Afghanistan–Russia Trade Surges to $366 Million in Eight Months



The Ministry of Industry and Commerce of Afghanistan has reported a substantial increase in trade relations between Afghanistan and the Russian Federation. According to official statistics released...ContP#4


## Construction of 164 Kilometers of Rural Roads Begins in Ghor

According to the Bakhtar News Agency, construction and rehabilitation works covering 164 kilometers of rural roads have commenced in the districts of Chaharsada, Al-Faruq, Dawlatina, Tulak, Dawlatyar, and Shahrak in Ghor Province.

The project is being implemented under the Food-for-Work program by the Provincial Directorate of Rural Rehabilitation and Development, with technical support from CRDSA and financial assistance from the World Food Programme (WFP).

Officials stated that the project...ContP#4

## European Union Pledges €25 Million to World Food Program in Afghanistan



The European Union has announced a financial contribution of EUR 25 million to the World Food Program (WFP) in Afghanistan.

According to the EU, the funding will be allocated to the implementation of climate-resilient initiatives and the strengthening of local food systems across the country.

The European Union reaffirmed its commitment to continued cooperation aimed at improving the livelihoods of the Afghan population.

## New Housing Units Completed for Returning Migrants in Bamyan

The Minister of Urban Development and Housing, Mawlavi Najibullah Hayat Haqqani, officially inaugurated a migrants' township in Bamyan Province, marking the commencement of its operational phase.

Road grading and leveling within the township are nearing completion. Furthermore,...ContP#4

## Editorial

### Decisive Action Against Land Grabbing: Land Restitution in Helmand

Land grabbing has remained a longstanding challenge in Afghanistan, leading to the violation of citizens' rights and significant losses to public property. Consequently, the efforts of the Commission for the Prevention of Land Grabbing and the Restitution of Grabbed Land is considered crucial for upholding the rule of law, ensuring transparency, and protecting the rights of the people.

The latest achievement involves the identification, verification, and restitution of 18,238 acres of land in Nad Ali District, Helmand Province, which has now been restored to state ownership. This milestone not only demonstrates the successful recovery of illegally seized land but also reflects the government's firm resolve, reinforced national responsibility, and commitment to transparent oversight. Careful verification, based on existing documentation and historical records, underscores the professional and systematic approach applied in enforcing the law.

The Commission's technical team has achieved significant results in Helmand province. Over the past two years, a total of 153,386.96 Jeribs of land have been restituted, including 1,645.51 Jeribs in Lashkargah city, approximately 51,000 Jeribs in Babaji District, around 56,000 Jeribs in the Loy Manda area of Nad Ali District, 26,500 Jeribs in Marja District, and most recently 18,238 Jeribs in Nad Ali District.

The restituted land in Nad Ali District was precisely verified using existing records, reflecting transparency and meticulous oversight. Over the past three years, through the Commission's tireless and continuous efforts, extensive evaluation, and rigorous follow-up, land previously seized illegally in various districts have been returned to the state. Collectively, more than four million Jeribs of land have been restored through legal procedures, transparent processes, and judicial evaluation.

This successful restitution demonstrates that, with strong political will and technical expertise, no obstacle can impede justice or the fulfillment of national responsibilities. The Nad Ali District experience confirms that safeguarding public property and protecting citizens' rights is achievable only through the rule of law, transparent monitoring, and sustained, systematic efforts.

# 22.75 MW Solar Plant Set to Boost National...





...As part of national efforts to achieve self-reliance in clean energy production, Da Afghanistan Breshna Sherikat (DABS) has announced that construction of the 22.75-megawatt solar power generation project in Surobi District of Kabul Province has reached 99 percent completion.
Upon commissioning, the project; Afghanistan's first large-scale solar power facility; will supply approximately 42,575 megawatt-hours of electricity annually to the national grid, significantly mitigating chronic electricity shortages.
Implemented through private sector investment, the project is expected to provide reliable electricity for industrial, commercial, and residential consumers, thereby supporting economic growth.

# Afghanistan–Russia Trade...

...by the ministry, the total value of bilateral trade between the two countries reached USD 366 million during the first eight months of the current fiscal year.
Akhundzada Abdul Salam Jawad, spokesperson for the ministry, stated that bilateral trade during the corresponding period last year amounted to USD 174 million, reflecting an increase of USD 192 million year-on-year. He further noted that Afghanistan's principal exports to Russia include raisins, mineral resources, apricots, industrial boilers, talc, and cotton, while imports from Russia consist of natural gas, petroleum products, timber, sunflower oil, industrial raw materials, wheat, and diesel fuel.
Economic analysts emphasize that the expansion of trade and economic cooperation between Kabul and Moscow has the potential to facilitate joint investments, particularly in the energy, agriculture, and industrial sectors, thereby contributing to enhanced economic stability in Afghanistan.
It is noteworthy that Russia ranks among the world's leading producers of food commodities, oil and gas, metals, and industrial raw materials. Access to the Russian market could enable Afghanistan to secure a reliable supply of essential goods at competitive prices.

# New School Building Inaugurated in Kandahar

A newly constructed and fully equipped school building for Ghanigi School in Nish District of Kandahar Province was officially inaugurated and handed over for use in the presence of provincial education authorities.
The facility was constructed at a total cost of AFN 7,271,203, with support from the Ministry of Education and a partner organization.
The school building comprises six classrooms, an administrative office, a solar power system, a potable water supply network, and other essential facilities, thereby providing a conducive and sustainable learning environment for students.

# Construction of 164 Kilometers of Rural Roads Begins in...

...aims to generate employment opportunities for rural communities while simultaneously improving transportation infrastructure. In addition to road construction and rehabilitation, food assistance packages; including flour, cooking oil, pulses, and salt; will be distributed to 2,500 beneficiary households. Upon completion, the project is expected to significantly alleviate transportation challenges in the targeted areas.

# Badakhshan Provincial Hospital Capacity Expanded to 250 Beds


The Ministry of Public Health has expanded the capacity of Badakhshan Provincial Hospital from 120 to 250 beds.
Officials from the Badakhshan Public Health Directorate stated that the expansion will enable the activation of several specialized medical departments, including Otolaryngology (ENT), Ophthalmology, Orthopedics, Dermatology, Neurosurgery, Burn Treatment, and Mental Health Services.
The Hospital Director, Dr. Shafiq Hamdard, indicated that prior to the expansion, the hospital faced significant capacity constraints, resulting in the referral of some patients to other provinces; particularly Kunduz Province; for specialized care. He confirmed that this challenge has now been addressed, significantly improving patient access to healthcare services.
Residents of Badakhshan welcomed the expansion and expressed optimism that it would lead to improved quality and accessibility of healthcare services.
It is important to note that Badakhshan Provincial Hospital remains the only fully equipped tertiary healthcare facility in the province, serving hundreds of patients daily, including residents from remote districts.

# New Housing Units Completed for Returning Migrants in...



...30 residential plots have been surveyed, demarcated, and prepared for allocation to eligible migrant families.
As part of the same initiative, the construction of 30 residential shelter units for eligible beneficiaries has been completed. This shelter construction project was implemented with financial support from the Office of the United Nations High Commissioner for Refugees (UNHCR).
The total cost of the project amounts to USD 126,000, with each housing unit costing approximately USD 4,200. Each unit comprises two living rooms, a corridor, a kitchen, a bathroom, and a toilet. Construction was completed within a three-month period.
Following formal handover, the housing units will be allocated to returning vulnerable migrant families. Survey and demarcation activities for the remaining residential plots within the township are ongoing.

# Detailed Urban Plan Approved for Migrants' Township in Samangan



Officials from the Survey and GIS Directorate of the Ministry of Urban Development and Housing announced the successful preparation and implementation of a comprehensive detailed urban plan for a migrants' township in the provincial center of Samangan.
The township encompasses 2,100 jeribs of land and includes 1,469 residential plots, designed to accommodate approximately 14,690 residents. The plan was developed in accordance with population projections, service delivery requirements, infrastructure networks, and national urban development standards.
Officials emphasized that the implementation of this plan will not only address critical housing needs of displaced persons and migrants but will also facilitate planned and sustainable urban development in the region.

# عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د ګڼو وزارتونو د مسئولینو لپاره په جوړ شوي سیمینار کې ګډون او...

...بې سرپرسته کورنیو، یتیمانو، کونډو او معتادینو سره د مرستې او همکارۍ په اړه دي، چې پر همدې بنیاد اسلامي امارت د خلکو سره د همکارۍ او د دوی د خدمت په موخه اداري جوړې کړې دي.

عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی وویل: د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت هر کال یتیمانو، کونډو او معلولینو ته مقرره ماهانه ورکوي، همدارنګه اسلامي امارت په یوه فرمان کې یاد وزارت ته فوق العاده امر کړی دی، چې د دوو اندامو معلول ته د موټر د رانیولو پیسې ورکړي او د مجردو شهیدانو کورنیو ته هم امتیاز ور کړي.

هغه وویل: دارالایتامونه د یتیمانو د روزلو مسئولیت لري، د دې لپاره چې د یتیمانو خدمت ته ښه رسېدګي وشي او په نظام کې سره میاشت بېوزلو ته د رسېدګۍ وظیفه سرته رسوي او مالي چارې یې د اسلامي امارت مقام پر غاړه دي، ځکه دوی د بې وزله خلکو، عصبي ناروغانو خدمت کوي او په طبیعي پېښو کې د زیانمنو خلکو سره مرسته کوي.

عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی وویل: په کار او ټولنیزو چارو وزارت کې د روزنتونونو اداره ده، چې په ښارو کې بې سرپرسته ماشومان ټولوي او د دوی خدمت کېږي، همدارنګه د مخدره موادو معینیت معتادین راټولوي او خدمت یې کوي، او د دوی لپاره یې د کسب او کار د زده کړې زمینه برابره کړې ده.

هغه جناب وویل: د بندیانو او محبوسینو په حق کې اسلامي امارت په ابتدا کې فرمان صادر کړی وو، چې بندیان به نه ځورول کېږي او نه به وهل کېږي، شکنجې به نه ورکول کېږي او د محکمې پرته به چاته سزا نه ورکول کېږي، ځکه چې دا اسلامي نظام دی او په اسلامي نظام کې د هر مسلمان عزت او وقار خوندي دی، اسلامي امارت د محبسونو رئیسانو ته امر کړی دی چې استادان ورته پیدا کړي او تعلیم ورته شروع کړي، بندیان پوه کړي او علم ورکړي، بندیخانې دوی ته د تعلیمي مراکزو په شکل جوړې کړي.

جناب عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د خپلو خبرو په پای کې وویل: کله چې مسئولیت درته وسپارل شو، نو خپل صلاحیت وپېژنئ، تاسو هر یو مسئول یاست، ستاسو رعیت پر تاسو څه حقوق لري او ستاسو څه حقوق دي دوی باندي باید دا وپېژنئ، هر څوک چې په کوم کار مبتلا شي، نو زده کول او ځان پرې پوه کول ورباندې فرض عین دي، اختلاف ونه کړئ، یو د بل اطاعت وکړئ، د الله تعالی په دین باندي لاسونه ټینګ کړئ، یو د بل سره محبت وکړئ او یو د بل په کارونو کې کومک سره وکړئ، خلکو ته د خوشحالۍ زېري ورکوئ او نا امیده کوئ یې مه، او په نفرت کې یې مه اچوئ، رحم او شفقت پرې کوئ، کارونه پر وخت او په اخلاص سره ورته اجرا کوئ، دروازې مه ورته بندوئ، د غریب او مالدار فرق مه کوئ، په خپل کار او خپلو فیصلو کې شریعت ته ترجیح ورکړئ او په شریعت کې ځانته اختیار مه ورکوئ، یو بل ته تواصوا بالحق او تواصو بالصبر کوئ او په خپل منځ کې امربالمعروف او نهي عن المنکر کوئ، د خلکو د رهنمايي او هدایت ذریعه جوړ شئ، چې راتلونکی نسل ستاسو لار تعقیب کړي، غفلت مه کوئ او په غیر مقصودي شیانو او عبثیاتو ځانونه مه مشغول کوئ.

په پای کې ټولو علماء کرامو او مسئولینو یوځل بیا له عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی سره خپل بیعت تجدید کړ او ژمنه یې وکړه چې د خپل شرعي نظام کلک ملاتړي دي او ملاتړي به وي.

وروسته مجلس نظام او خلکو ته د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی لخوا د دعايي په لوستلو سره پایته ورسېد.

# سروبي کې د ۲۲.۷۵ مېګاواټه لمریزې برېښنا پروژه ژر ګټې اخیستنې ته...

...په هېواد کې د برېښنا په برخه کې د پاکې انرژۍ پر ځان بسیاینې د افغانستان برېښنا شرکت د رهبرۍ د هڅو له مخې، د کابل سروبي ولسوالۍ کې د ۲۲.۷۵ مېګاواټه لمریزې برېښنا تولید پروژې چارې ۹۹ سلنه بشپړې شوې دي.

په هېواد کې د لمریزې برېښنا د دې لومړنۍ لویې پروژې د ګټې اخیستنې سره سم، برېښنا به په کلني ډول د ۴۲,۵۷۵ مېګاواټه پر ساعت کچه عمومي شبکې ته وویشل شي، چې د برېښنا کمښت لویې ستونزې ته به ځواب ووایي.

دا پروژه به د خصوصي سکټور پانګونې سره د صنعتي، سوداګریزو او هستوګنیزو برخو لپاره اړینه برېښنا برابره کړي او ستر ملاتړ وړاندې کړي. د یادې پروژې چارې د ۲۰۲۴ زېږدیز کال په لومړیو کې پیل شوې وې او د پانګوال شرکت له لوري اوس د بشپړېدو په حال کې دي.

د افغانستان برېښنا شرکت رهبرۍ د برېښنا انرژۍ او تاسیساتو جوړونې په برخه کې د پانګوالو هڅونې، ملاتړ او فرصتونو پېژندنې په موخه د دوو سترو کنفرانسونو په پایله کې، اوس د هېواد په کچه په لسګونو پراختیایي پروژو کار روان دی.

# کندهار کې د یوه ښوونځي نوې ودانۍ پرانیستل شوه

...د کندهار ولایت په نېش ولسوالۍ کې د غنیګي ښوونځي لپاره یوه بشپړه مجهزه ودانۍ، چې د پوهنې وزارت په همکارۍ د یوې همکارۍ اداري له خوا د ۷ مېلیونه، ۲۷۱زره ۲۰۳ افغانیو په لګښت جوړه شوې، د ولایتي پوهنې چارواکو په حضور کې په رسمي ډول ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

د ښوونځي دغه ودانۍ شپږ درسي ټولګي، یوه اداري خونه، د لمریزې برېښنا سیستم، د پاکو اوبو شبکه او نور اړین اسانتیاوې لري، چې د زده کوونکو لپاره یې مناسب تعلیمي چاپېریال برابر کړی دی.


# در مورد انتقال زمین‌ها برای تطبیق پروژه‌های مسکونی در...

...پروژه‌های مسکونی در شهر کابل گفتگو نمودند و برای حل مسائل تخنیکی کمیته‌ای مشترک نیز ایجاد شد. همچنین، در این نشست درباره تسهیل و تسریع روند انتقال زمین‌ها برای ساخت شهرک‌های مهاجرین بحث شد.

رئیس عمومی اراضی وزارت زراعت و مالداری اطمینان داد که تیم‌های تخنیکی آنان در مواقع ضرورت و بنا به درخواست وزارت شهرسازی و مسکن، به امور این وزارت اولویت خواهند داد و روند انتقال زمین‌ها متوقف نخواهد شد.

کمیته مشترک کار خواهد کرد تا برای نخستین بار روند انتقال شش محل مشخص شده در شهر کابل را تکمیل و تمامی مشکلات تخنیکی و حقوقی مربوط به آن را حل کند. محترم الحاج مولوی نجیب‌الله حیات‌حقانی تأکید کرد که کارها باید با سرعت انجام شود و مشکلات موجود به مقامات مربوطه گزارش و دنبال گردد. وزارت شهرسازی و مسکن با هدف حل مشکل کمبود مسکن و سرپناه، تلاش‌های خود را آغاز کرده و کار عملی برای فراهم‌سازی زمینه تأمین سرپناه برای مردم را شروع کرده است.

# د سمنگان ولایت د مهاجرینو ښارګوټي تفصیلي پلان...



...نمرې طرحه شوې دي. دغه تفصیلي پلان د شاوخوا ۱۴۶۹۰ کسانو د استوګنې لپاره ترتیب شوی، چې د سیمې د نفوس، خدماتي اړتیاوو، زیربنایي شبکو او د ښاري پراختیا د معیارونو پر بنسټ طرحه شوی دی.

د سروې او جی‌ای‌اس ریاست مسئولین زیاتوي چې د دغه ښارګوټي تفصیلي پلان جوړول به د بې‌ځایه شویو او مهاجرینو د اساسي ستونزو د حل ترڅنګ، په سیمه کې د منظمې ښاري ودې لپاره نوې زمینه هم برابره کړي.

# معاون اداری ریاست الوزراء با هیأت بلند پایهٔ کشور قرغزستان...

...محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء با هیأت بلند پایهٔ کشور قرغزستان تحت ریاست محترم بقیت صدیقوف وزیر اقتصاد و تجارت آن کشور دیدار نمود.

در این دیدار ابتدا محترم بقیت صدیقوف، هدف سفرش را فعال‌سازی روابط تجارتی و اقتصادی میان دو کشور عنوان کرد و گفت که تعدادی از تاجران و سرمایه‌گذاران کشورش نیز به همراهی وی به افغانستان آمده اند و خواهان تجارت و سرمایه‌گذاری در افغانستان می‌باشند.

وی در ادامه، از افتتاح مرکز تجارتی کشور قرغزستان در کابل یادآوری کرد و از علاقه‌مندی امارت اسلامی افغانستان در تجارت میان دو طرف و همکاری مسئولین در این راستا ابراز خرسندی نمود.

وزیر اقتصاد و تجارت قرغزستان از ادامهٔ کمک‌های انسان‌دوستانهٔ این کشور به ملت افغانستان اطمینان داد و گفت که کشورش مایل است در عرصه‌های حکومتداری الکترونیکی، چاپ اوراق بهادار، ایجاد روابط بانکی و پرداخت‌های الکترونیکی با امارت اسلامی همکاری کند و همچنان توسعهٔ روابط تجارتی دو جانبه را عامل مهم دوستی بین این دو کشور می‌داند.

در مقابل محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء ضمن خوش‌آمدید به محترم بقیت صدیقوف و هیأت همراه اش، گفت که افغانستان و قرغزستان از مشترکات دینی، تاریخی و فرهنگی دیرینه برخوردار هستند و گسترش روابط اقتصادی و تجارتی میان این دو کشور نمایانگر دوستی عمیق دو طرف می‌باشد. معاون اداری ریاست الوزراء با ابراز قدردانی از کمک‌های انسان‌دوستانهٔ کشور قرغزستان به افغانستان، گفت که امارت اسلامی افغانستان آمادهٔ هر گونه همکاری با قرغزستان بوده و الکترونیکی‌سازی سیستم ادارات و ایجاد کانال‌های بانکی بین دو کشور را یک امر ضروری می داند.

محترم مولوی عبدالسلام حنفی در بخش دیگری از سخنانش، گفت که امارت اسلامی افغانستان خواهان روابط حسنه براساس احترام متقابل با همهٔ کشورها است و به هیچ فرد یا گروهی اجازه نمی‌دهد که از خاک این کشور برعلیه امنیت سایر کشورها استفاده نماید.

# د کورنیو چارو وزیر د خوست له ولسونو...

...باختر آژانس: د کورنیو چارو وزیر محترم خلیفه سراج الدین حقاني، د خوست په مرکزي جامع جومات کې له بېلابېلو قومونو او د ښار له اوسېدونکو سره وکتل او وینا یې وکړه.

په دغه لیدنه کې، د کورنیو چارو وزیر خلیفه سراج الدین حقاني وویل چې افغانان په نږدې نیمه پېړۍ کې له دوامدارو کړاوونو سره مخ شوي، خو بیا هم د خپلواکۍ او استقلال غوښتنه د ملت له بنسټیزو ارمانونو څخه ده. نوموړي زیاته کړه چې په تاریخي لحاظ افغانان د پردیو امپراتوریو تر فشار لاندې پاتې شوي، او که اوسنی نسل یو د بل د ټیټولو او کمزوري کولو هڅې وکړي، د عداوتونو مخه نه شي نیول کېدای. د هغه په وینا، زغمل او تعامل د ټولنیز ثبات لپاره حیاتي ارزښت لري.

محترم خلیفه سراج‌الدین حقاني په خپلو خبرو کې د حکومت او ولس ترمنځ د باور، مینې او همغږۍ اړیکو پر پیاوړتیا ټینګار وکړ او دا یې د یوه باثباته او سوکاله ټولنې بنسټ وباله. نوموړي خلکو ته سپارښتنه وکړه چې خپلې ستونزې دې د قانوني او رسمي لارو، یعنې د محاکمو له لارې حل کړي، ځکه قضاء د نظام یو اساسي رکن او د عدالت د ټینګښت مهمه مرجع ده.

د کورنیو چارو وزیر همداراز څرګنده کړه چې حکومت د خلکو د هوساینې، عدالت او متقابل باور فضا رامنځته کولو په برخه کې رېښتنې هڅې کوي. نوموړي زیاته کړه چې دوی د انقلاب په فضا کې روزل شوي او اساسي موخه یې خلکو ته د یووالي پیغام رسول او د هېواد د امنیت او ثبات لا پیاوړتیا ده.

# آغاز کار احداث و ترمیم ۱۶۴ کیلومتر سرک روستایی...

...آژانس باختر: کار این سرک‌ها در ولسوالی‌های چهارسده، الفاروق، دولینه، تولک، دولت‌یار و شهرک غور در پروژه کار در بدل غذا از سوی ریاست احیاء و انکشاف دهات این ولایت به همکاری تخنیکی موسسه CRDSA باحمایت مالی برنامه جهانی غذا WFP آغاز گردیده است.

مسئولان در ریاست احیا و انکشاف دهات ولایت غور، می گویند، که هدف از تطبیق این پروژه ایجاد فرصت‌های کاری برای باشندگان مناطق روستایی در کنار بهبود زیرساخت‌های ترانسپورتی می‌باشد. آنان می افزایند، در جریان تطبیق این پروژه، علاوه بر ساخت و بازسازی سرک‌های روستایی، بسته‌های غذایی شامل آرد، روغن، دال و نمک نیز برای ۲۵۰۰ خانواده توزیع می‌گردد و با تکمیل شدن این پروژه، مشکلات ترانسپورتی مناطق یاد شده نیز حل خواهد شد.

امارت اسلامی افغانستان
مقام ریاست الوزراء
ریاست عمومی دفتر
دفتر سخنگو
مرکز اطلاعات و رسانه‌های حکومت




صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰۶۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

# عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د ګڼو وزارتونو د مسئولینو لپاره په جوړ شوي سیمینار کې ګډون او...

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی په کندهار کې د شهیدانو او معلولینو وزارت، د افغاني سرې میاشتې عمومي ریاست، د ښځو په وړاندې د مبارزې عمومي ادارې، د زندانونو چارو ادارې، د کار او ټولنیزو چارو وزارت اړوند د روزنتونونو مسئولینو، د کورنیو چارو وزارت د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې معینیت، د جهادي مدارسو او دار الایتامونو عمومي ریاست اړوند د دار الایتامونو مسئولینو لپاره په جوړ شوي درې ورځني اصلاحي او روزنیز سیمینار کې، ګډون او ویناوې وکړې.

په دغه سیمینار کې چې د افغاني سرې میاشتې عمومي رئیس، د کار او ټولنیزو چارو وزیر، د جهادي مدارسو عمومي رئیس، د سترې محکمې نظامي معاون، د سترې محکمې جنوب لویدیځ زون قضایي معاون، د مرکزي دارالافتاء رئیس، د دیني خپرونو د نظارت او کره کتنې ادارې رئیس، د شهیدانو او معلولینو وزارت معین، د کورنیو چارو وزارت د مخدره توکو د مخنیوي معین او یو شمېر نورو مسئولینو او علماء کرامو هم برخه اخیستې وه، عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د سیمینار ګډونوالو ته لازم هدایات او مهمې توصیې وکړې.

همدارنګه یې د ټولو راغلو مسئولینو خدمتونه وستایل او د سیمینار ګډونوالو ته یې د قرآن کریم او سنتو په رڼا کې تفصیلي ویناوې وکړې او ویې ویل، خیر الناس من ینفع الناس، په خلکو کې د خیر خلک هغه دي، چې خلکو ته یې نفع رسېږي. اسلامي امارت د مسلمانانو د وکالت او نماینده ګۍ مقام دی، اسلامي امارت به د مسلمانانو د دین او عقیدې ساتنه کوي، خلکو ته به دین او شریعت ورښيي، د خلکو امنیت به ساتي، د یتیمانو، کونډو، غریبانو، بې سرپرسته کورنیو کفالت به کوي.

عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی وویل: د اسلامي امارت قوانین او فرامین د خو کسانو رایه نه ده، بلکې دا د الله تعالی دین او ټول اسلامي احکام دي، چې خلک د الله تعالی دین ته رابولي.

هغه وویل: د اسلامي امارت فرمانونه په دوو برخو کې صادرېږي، یوه برخه یې د الله تعالی تعظیم او عبادت دی، چې لمونځ، روژې او په نورو عباداتو کې فرمانونه دي، او بله برخه فرمانونه یې د الله تعالی پر مخلوق باندې د رحم او شفقت لپاره دي، چې د خلکو، مهاجرینو، غریبانو، معلولینو،...

۵

## بامیان کې د مهاجرینو په ښارګوټي کې یو شمېر کورونه جوړ شول

د کور او ښار جوړولو وزیر محترم الحاج مولوي نجیب الله حیات حقانی، له لوري په بامیان ولایت کې د مهاجرینو ښارګوټی رسماً پرانیستل شو او چارې یې په عملي بڼه پیل شوې. اوس مهال د کډوالو ښارګوټي د سړکونو د هوارولو چارې د بشپړېدو په حال کې دي. دغه راز، د ۳۰ استوګنیزو نمرو خط اچونه ترسره شوې او مستحقو مهاجرو کورنیو ته د وېش لپاره چمتو شوې دي...

۲

## عامې روغتیا وزارت له لوري د بدخشان ولایتي روغتون ظرفیت له ۱۲۰ بسترونو څخه ۲۵۰ بسترونو ته لوړ شو


د بدخشان د عامې روغتیا ریاست مسئولین وايي، چې د دې روغتون د پراختیا له لارې به ګڼې تخصصي برخې فعالې شي، چې په کې د غوږ، پوزې او ستوني، سترګو، ارتوپیدي، جلدي، د اعصابو جراحي، د سوځېدنې او رواني روغتیا څانګې شاملې دي.

همدارنګه، د ولایتي روغتون رئیس، ډاکټر شفیق همدرد، څرګنده کړه چې د ظرفیت له لوړولو وړاندې یاد روغتون له جدي ستونزو سره مخ و، او د بسترونو د کمښت له امله به ځینې ناروغان د تخصصي درملنې لپاره نورو ولایتونو، په ځانګړې ډول کندز ولایت ته استول کېدل، چې اوس دغه ستونزه حل شوې او ناروغانو ته به ګڼې اسانتیاوې برابرې شي. دغه راز، د بدخشان اوسېدونکو د روغتون د ظرفیت لوړولو هرکلی وکړ او هیله یې وښوده چې له دې سره به د روغتیایي خدمتونو کیفیت لا ښه شي. د یادونې وړ ده چې د بدخشان ولایتي روغتون د یاد ولایت یوازینی مجهز روغتون دی، چې هره ورځ سلګونه ناروغان، په ځانګړې ډول د لرې پرتو ولسوالیو اوسېدونکي، ورته مراجعه کوي او اړین روغتیایي خدمتونه ورته وړاندې کېږي.





## در مورد انتقال زمین‌ها برای تطبیق پروژه‌های مسکونی در شهر کابل گفتگو شد




محترم الحاج مولوی نجیب‌الله حیات‌حقانی، وزیر شهرسازی و مسکن، در دفتر کار خود با محترم مولوی محمود مظلوم، رئیس عمومی اراضی وزارت زراعت، آبیاری و مالداری، و هیأت همراه دیدار کرد.

در این دیدار، طرفین در خصوص انتقال زمین‌ها به منظور اجرای...

۵

## د سمنګان ولایت د مهاجرینو ښارګوټي تفصیلي پلان ترتیب او تطبیق شوی



د کور او ښار جوړولو وزارت د سروې او جی‌ای‌اس ریاست مسئولین وايي چې د دې ریاست اړوند تخنیکي ټیم د سمنګان ولایت مرکز کې د مهاجرینو ښارګوټي تفصیلي پلان په بریالیتوب سره ترتیب او تطبیق کړی دی.

یاد ښارګوټی چې ۲۱۰۰ جریبه ځمکه لري، په ټولیز ډول پکې ۱۴۶۹ استوګنیزې...

۵

## برای احداث شهرک مهاجرین لوگر ۱۰۲۸ جریب زمین سروی توپوگرافی شد



۲